سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۱۵

# ژونـد

څه موده وړاندې چې لا وطن کې دومره ګډوډي نه وه، خپل پلرني ټاټوبي "لوګر" ته تللی وم.

يوه پخواني د کوچنيوالي ملګري غوږ رانيږدې کړ، ويل يې:

يار دلته يا طالب دی يا دولت! ته يې د چا پلوي کوې؟

ورو مې ورته وويل:

ما ويل زه يې د ژوند پلوی يم.

زما ژوند خوښيږي.

لومړی خو يو څه حيران شو او بيا يې سر وښوراوه او وې ويل:

دلته بس همدا تا چې څه وويل؛ نشته ګڼې نور هره بلا وجود لري.

۱۲/۱۲/۲۰۱۹

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ